# ښځه که نړۍ




لیکونکې: هیله سپېڅلې.

2020/April/30

Hela Spehsali

HelaSpehsali@Gmail.Com

# ښځه که نړۍ

# بسم الله تعالی

الله جل جلاله ملائیکو ته امر وکړ چې د یوه انسان د جوړولو لپاره له ځمکې څخه خاوره را ټوله کړي، انسان جوړ شو، الله تعالی جل جلاله روح پکې پو کړ او نوم یې ورته آدم کېښود. وروسته یې د آدم له چپې پښتۍ څخه بل انسان خلق کړ او نوم یې ورته حوا کېښود، حوا یې ددې لپاره خلق کړه تر څو د انسان نسل پایښت ومومي، د مینې او ژوند لپاره یې دواړه جنت ته ولېږل. ژوند روان وه، مینه وه او ژوند وه.

دواړه ځمکې ته راغلل، ژوند یې په یو نوي ځای کې پیل کړ، په زرګونو کلونه تېر شول، انسانانو د ژوند هر پړاو تجربه کړ، ښځې چې لومړنی جوهر یې حوا وه هم په دې سیر کې وې، ترخې خوږې یې وګاللې، ۱۴۰۰ کاله مخکې کله چې د اسلام مبارک دین په ځمکه نازل شو، ښځه یې د لوی عزت خاونده وګرځوله.



تر اسلام مخکې د ښځې ژوند ډېر تریخ وه، لومړی هغه څه چې اسلام ښځو ته ورکړ، هغه ژوند وه، په عربي نړۍ کې ښځو ته په سپک نظر کتل کېدل او وژل یې، اسلام ژوند ورکړ، را وروسته د ښځې ټول حقوق مالوم شول، د اسلام په لاره کې لومړنۍ شهیده ښځه وه، ښځې انسانیت او انسان وساته، ښځه د انسانیت تکمیلوونکې ده.

**ښځه په اسلام کې:**

اسلام هغه دین دی چې ښځې ته یې ژوند ورکړ، ښځه یې د انسان په توګه نړۍ ته وروپېژندله او د لوی عزت خاونده یې وګرځوله، په الهي کتاب ( قران کریم ) کې د ښځو په اړه مکمل یو سورت په نوم د سورت النساء نازل شوی دی، همدارنګه د دوی په وړاندې د ادب او احترام لارښوونې هم په سورت النور کې راغلي دي، د احادیثو نیمایي علم د امهات المومنین حضرت عایشه رضی الله عنها څخه روایت شوی دی، په اسلام باندې لومړۍ ښځه مشرفه شوه.

اسلام ښځې ته ډېر حقوق ورکړي دي، د ښځو پر وړاندې یې هر ډول تاوتریخوالی منعه کړی ده، یو صحابي حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ته راغی او ورته یې وویل چې پرما د چا ډېر حق دی؟، هغه مبارک صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې ستا د مور، هغه بیا پوښتنه وکړه بیا د چا؟ هغه مبارک صلی الله علیه وسلم بیا ورته وفرمایل چې ستا د مور، دا خبره یې ورته درې ځلې تکرار کړله او په وروستي ځل یې ورته وویل چې ستا د پلار، مور ښځه ده او د مور د پښو لاندې جنت دی.



ښځه سکون ده، الله تعالی جل جلا له په قران عظیم الشان کې فرمایي: [ وَ مِن آیاتهِ اَن خَلَقَ لَکُم مِن أنفُسِکُم أزوَاجاً لِتسکُنوُ اِلیهاَ و جَعَلَ بَینَکُم مُوَدةَ وَرَحمَة إنَ فِی ذَلِکَ لَایاتِ لِقومٍ یَتَفکَرُونَ ] ژباره: د الله جل جلا له د حکمت او قدرت له دلایلو څخه یو دادی، چې تاسې لپاره یې ستاسو له جنس څخه جوړه پیداکړه، تر څو ( د هغو په څنګ کې ) سکون ترلاسه کړی، بیا یې ستاسې تر منځ دوستي او لورینه پیداکړه، په یقین سره دې کې د الله جل جلا له د قدرت او حکمت دلایل د هغه چا لپاره دي چې فکر کوي. نورې ډېرې الهي لارښوونې هم شته.

مادیات هغه څه دي چې ډیری وخت د ښځو په وړاندې لومړي ثابت شوي، آن ځینې ښځې د مادیاتو لپاره نورې ښځې هم دې خوا ته را کاږي. معنوي تاوتریخوالی او د خوښیو لومړیتوبونه ورکول یوې ښځې ته د بلې په وړاندې بیا زیاتره وخت په کورني ژوند کې رامنځ ته کیږي، د مینې نا برابري ددې لامل کیږي چې ښځې معنوي تاوتریخوالي ته لاس ور وغځوي.

ټول انسانان نړۍ ته مقدس ( سپېڅلي، پاک ) راځي، خو کینه او نفرت له ټولنې زده کوي، هېڅ انسان نړۍ ته کینه کښ او ککړ نه راځي، د نړۍ ټول نارینه چې په جنسي خوند پوه شوي دي، د ښځو پر وړاندې د دوی لومړنی لید لوری جنسي لري، وروسته یې بیا نورو استعدادونو ته پام کوي، ښځه مور ده او په نړۍ کې د انسانانو د نسل د پایښت سبب ده.



یو وخت مې په یو کتاب کې لیدلي وه، لیکلي یې وه: ښځه په یوه لاس زانګو او په بل لاس نړۍ زنګوي. دې نړۍ ته د سترو نارینه وو راتګ د مور په وسیله شوی؛ خو بیا همدا ستر انسانان د خپلې مور د وینو ځښوونکي جوړ شوي دي، دا چې ښځه شاته پاتې ده، تاسو ارزښت ورنکړ او اوس چې ثابته شوله بیا یې هم په کرار نه پرېږدی.

**ښځه په نوره نړۍ کې:**

له عمومي څېړنې نه به اوس لږ جزیاتو ته ولاړ شو، غربیانو هم لکه نورو انسانانو په لومړیو کې ښځو ته د نارینه جنسي غوښتنې تکمیلوونکي په توګه کتل، کله یې چې د ښځې وړتیاوې ولیدلي، دا لید یې بدل شو. وروسته له WW2 دوهم نړیوال جنګ څخه، په ځانګړې توګه د UNO د ملګرو ملتونو د سازمان په منځ ته راتګ سره ښځو ته په عمومي ډول توجه وشوه، مخکې له هغې به یوازې سلطنتي ښځو ځانګړی درناوی درلود، نورې عادي ښځې به د مزدورو په ډول کارېدې.

د بشر د حقوقو سازمان په جوړېدو سره ښځې د ډېرو نورو اړینو حقوقو برخمنې شوې، کله چې ښځې تعلیم او پوهې ته مخه کړه، دا یې وښودله چې هغه هم د نارینه وو په څېر له ډېرو ځانګړنو څخه برخمنه ده، په اوس وخت کې د نړۍ د شېړو هېوادونو مشري ښځې پر مخ بیايي؛ له دومره پرمختګ سره سره بیا هم د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی کم نشو.

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي یو لوی لامل جنسي فقر ده، جنسي فقر ډیری په نارینه وو کې شتون لري؛ دیني، ټولنیز، قانوني، کلتوري او اقتصادي محدودیتونه ددې لامل شوي دي چې د نارینه وو جنسي فقر زیاتوالی ومومي، که څه هم جنسي فقر په ښځو کې هم شته خو د نارینه وو په ارزښت ډېر کم ده.

په نړۍ کې اوس هم په هر ځای کې له ښځو څخه د ناوړه جنسي عمل غوښتنه کیږي، چې د مجبوریتونو له مخې هغوی هم مجبوریږي، که نارینه د یوه با احساسه انسان په توګه ښځه درک کړي هیڅکله به داسې ونشي.

لوږه او فقر هم په نړۍ کې ددې لامل شوې ده چې ښځې د شاقه کارونو کولو ته مخه وکړي، جګړه هر څه له منځه وړي او ټوله نړۍ زیانمنوي.



**ښځه په افغانستان کې:**

د نورو هېوادونو په څېر، په افغانستان کې هم ښځې ډېر تریخ ژوند تېر کړی او تېروي يې. د افغانانو له لومړني قبيلوي ژوند څخه نيولې آن تر دې چې د حکومت خاوندان هم شول، د ښځو سره په چلند کې يې کوم مهم بدلون ندی موندلی.

د لومړي ځل لپاره د اعليحضرت امان الله خان په وخت کې ښځو ته په نورو برخو کې هم توجه وشوه، د شاه د مېرمنې ملکه ثريا په امر په کابل کې د مستورات په نوم د انجونو لپاره ښوونځی جوړ شو، کرار کرار د ښځو تعليم او پرمختګ ته پام ډېرېده؛ خو د هاغه وخت د بې شعوره ملايانو له امله شاه اړ شو چې خپل هېواد پرېږدي، د شاه په تبعيد سره دا لړۍ هم ودرېده.



ملکه ثريا، د شاه غازي امان الله خان مېرمن

د سردار محمد داوود خان او نورمحمد تره کي د ولسمشرۍ په دوران کې دا لړۍ بيا پيل شوه، خلقيانو د خپلو کمونيستي افکارو له مخې ښځو ته ډېر ژر او ډېر زياد ازادي ورکړه، مانا د ښځو په ازادي کې يې له افراط څخه کار واخيست، چې د دوی پر وړاندې د جهاد د اعلان مهم لامل شو، د طالبانو د نظام په راتګ سره نه يوازې چې ښځې له برخمنو حقوقو څخه بې برخې شوې؛ بلکې نور هم تر ظلم لاندې ونيول شوې، کډوالي او په کور کې پاتې کېدل افغان مېرمنې د پرمختګ له اړخه ډېرې زيانمنې کړې.

د ښاغلي حامد کرزي د ولسمشرۍ په دوهمه دوره کې بیا دې قشر ته پام وشو، ښوونځي پرانیستل شول، پوهنتونو کې یې ونډې ډېرې شوې، په دولتي اداراتو کې ځای ورکړل شو او نور...

د افغانانو په هماغه لومړني قبیلوي ژوند کې له ښځو سره د یو لړ عرفي قوانینو له مخې چلند کېده، په ځانګړې توګه په پښتني قبیلو کې. په پښتني قبیلو کې خو د ښځو پیدایښت ( نرۍ ته راتګ ) یو ډول عار ( شرم ) ګڼل کېده، ورسره د دوو کورنیو د جګړې د زیان له امله به یې ښځې په بد او پور کې ورکولې، په ډېر کوچني ناوړه چلند به یې وژلې؛ بد بختانه اوس هم په ځینو سیمو کې دا بې منطقه پښتونولي رواجونه شتون لري.

تمدن په ښاري ژوند پورې محدود ندی، اوس هم په ښاریانو کې داسې ډېر خلک شته چې قبیلوي ارزښتونه پالي او هغو ته ژمن دي، که څه هم په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې ډېرى تاوتریخوالی په لېرې پرتو سیمو کې شتون لري، مګر ښار هم له دغو نادودو څخه په امان کې نده، په ښار کې بیا د تاوتریخوالي بل ډول دی.

د فرخندې په وړاندې د افغانانو ظلم به تاریخ هېڅکله هېر نکړي، دا پېښه د افغانانو لوی حیوانیت ښکاره کوي، ددې پېښې لاملونه سم روښانه نشول؛ بیا هم له یوې ښځې سره داسې چلند نه اسلام، افغاني دودونو، قانون او نړیوالو ټولنو یو هم د دا ډول حیواني چلند اجازه نه ورکوله.




د میدان وردګو ولایت په ښاروالي آغلي ظریفه غفاري چې په نړۍ کې یې د میړاني نړیواله جایزه ترلاسه کړه، د 2020/March/22 نېټې برید د پښتونولي ناوړه دودونو او له اسلام څخه د ناخبري ښکارندویي کوي.



د ښځو پر وړاندې جنسي ناوړه لید په افغانستان کې هم په پراخ ډول شتون لري، زموږ د افغانانو ذهنونه په دومره اندازه منفي ګرا دي، چې هر څه ته لومړی له منفي زاویې ګوري؛ کله چې یوه ښځه ویني لومړی ور څخه جنسي تصور کوي.

که تاسي ریښتوني مسلمانان یاست ولې له ښځو سره ظلم کوئ؟، قتل به یو څوک کوي او په بد او پور کې ښځې ورکوئ؟، بدبختي بیا هلته لا پسې ډېره شي چې کله د بد او پور ناوې د خسر کور ته ولاړه شي، د خسر کورنۍ هم هاغه ناکردې ورسره وکړي چې تاریخ یې په لیکلو عاجز شي، د پښتونولي لوی غیرت مو همدا دی چې په بد او پور کې خپله خور یا لور ورکړی او تاسي خلاصي تنی او هسکي شملي و ګرځئ؟



په افغانستان کې پښتونولي له اسلام څخه مخکې ده، په داسې حال کې چې بيا ټول افغانان ځانونو ته ټينګ مومنان هم وايي، که تاسې د مسلماني دعوه کوی، ولې د ښځو پر سر ولور اخلی؟ ولې هاغه حق چې خدای جل جلاله ورته ټاکلی نه يې ورکوی؟ ولې يې د ميراث حق نه ورکوی؟

يوازې پښتانه ندي چې داسې ناوړه چلندونه کوي؛ بلکې نور قومونه هم په دې کې ښکيل دي، ماديات داسې څه دي چې د انسانانو ضميرونه ويده کوي، په دې هېواد کې د ښځو پر ورانديې د ډېرو نادودو تر څنګ بل دادی چې کوچنی يا هم پېغله انجلۍ عمر خوړلو نارينه وو ته يوازې د هغوی د سرمايې لپاره واده کيږي، چې بيا يې ژوند ډېر تريخ کيږي، په واده کې مهم اصل دادی چې دواړه لوري بايد په عمر کې سره نږدې وي، ځکه دوی د يو او بل درک ښه کولای شي؛ کله چې د يو او بل درک له منځه ولاړ شي، مالومه خبره ده چې ژوند به تريخ کيږي، ماديات بايد په ژوند کې د خوښۍ، سکون او آرامتيا لپاره وکارول شي؛ نه دې غم او درد لپاره.

په پای کې غواړم افغان مېرنو او نارينه وو ته توصيه ولرم.


**افغاني خويندو!**

اوس وخت د نرۍ ژوند بدلون موندلی ده، هر پرمختګ او هوسايي يوازې په تعليم کې نغښتي ده، تعليم په سمه مانا وکړئ او ژوند مو وژغورئ، په لومړي سر کې اسلامي او بيا افغاني ارزښتونو ته درناوی وکړئ، د خپل پت ساتونکي واوسئ، که يوازې حجاب هم په مکمله توګه مراعات کړی، ژوند به مو بې ميني نشي.



افغاني وروڼو!

تعلیم فرض دی، پرېږدی چې له دا فرض څخه ستاسو د ایمان تکمیل کوونکي هم برخمنې شي، له بې ځایه او بې منطقه قبیلوي غیرتونو څخه تېر شئ، تعلیم مو د سیالۍ معیار وګرځوئ، غیرت په نورو ډېرو شیانو هم کیږي، بې ځایه غیرت مه کوئ، اسلام سم وپېژنئ او عملي یې کړئ، مینه خپره کړئ خپل انسانیت ته مو ژمن پاتې شئ، د ښځو له مجبوریتونو ناوړه ګټه مه اخلئ، خپل اسلامیت مو ثابت کړئ، مه پرېږدئ چې ددې هېواد ملالې مړې شي.




**د انسانانو د احساس ضمیرونه مړه شوي دي، د ښتینو او پر حقه ضمیرونو د ویښتیا په هیله.**

کابل، څلورمه کارته. نېټه: 2020/April/30